# د فضل الرحيم ساقي په اشعارو کښې بديعي صنايع

## Figures of Speech in the Poetry of Fazal Rahim Saqi

سيد ظفر الله بخشالی*

## Abstract:

Fazal Rahim Saqi is a well known personality in the history of Khudai Khidmatgar Movement. He is a poet as well as a prose writer. He has written two books of Pashto poetry. He has a unique style and diction in his poetry. Fazal Rahim Saqi used flowery and figurative language in his poetry. Various figures of speech are found in his poetry. The auther of this paper has analysed the style, diction and figures of speech, with reference to his poetry .

فضل الرحيم ساقي د اشنغر د وردګې اوسېدونکی دی، پلار يې عبدالعزيز خان نومېدۀ، نوموړی په ۱۹۰۴ء کال کښې زېږېدلی، په خټه محمدزی پښتون دی. نوموړی له باچا خان سره په انجمن اصلاح افاغنه، خدائي خدمتګار تحريک او بيا په نېشنل عوامي ګوند کښې هم سياسي فعاليت ترسره کړی دی. نوموړی د خپل وخت ښۀ شاعر او ليکوال ؤ. د تحريک سر لښکر باچا خان وو چې د پښتنو د سياسي، سماجي، اخلاقي او دخپلواکي درس ورکو - په دې تحريک کښې نور ډېر شاعران لکه مولانا محفي صاحب، عبداکبر خان اکبر، شاد محمد ميړی، ولي محمد طوفان، خان مير هلالي، سعادت خان جلبل، عبدالمالک فدا، ماسټر عبدالکريم، عبدالخالق خليق، راحت زاخېلي، امير نواز خان جليا او داسې نور ډېر شاعران ددې تحريک سره وو، د قامي ازادي جدوجهد ئي کوو په دغه شاعرانو کښې يو فضل الرحيم ساقي هم وو چې په ادبي دنيا کښې په ساقي صاحب مشهور ؤ دوی د ژوند زياته برخه په جېلونو کښې تېره کړې ده او هم دغه رنګ ئي قامي،وطني او سياسي شاعري کړې ده دوي شاعري کښې ډېر رنګونه دي لکه د وطن د ازادي، د پښتنو د ورستۍ پاتې ورځې يادونه، د قامي مشرانو يادونه او داسې نور ډېر موضوعات دي خو دلته به د ساقي په شاعرۍ کښې د صنايع او بدايع تحقيقي جاج اخستي شي -

---

* Ph.D Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar

د بديع علم په دوه لويو څانګو وېشل کېږي، چې د لفظي او معنوي صنايعو ښاخونه دي. مونږ به په خپله دې ليکنه کښې لومړی د لفظي صنايعو په اړه څرګندونې وکړو او بېلګې به يې د خوشحال بابا په اشعارو کښې په ګوته کړو او بيا به له معنوي صنايعو څخه يادونه وکړو.

## لفظي ښکلاوې:

لفظي ښکلاوې يا صنعتونه هغه دي، چې د کلام ښکلا په الفاظو پورې تړلي وي، يعنې د الفاظو تر منځ په بېلابېلو طريقو او د تناسب ورکولو په وجه د کلام موسيقيت زياتېږي، چې په دې ډول صنايعو کښې تجنيسات او اقسام يې، سجع او ډولونه يې، تکرار او ډولونه يې، تکلفات او تفننات (لزوم ما لايلزم) او د هغو ډولونه راځي.

اوس به د ارواښاد فضل الرحيم ساقي په اشعارو کښې دغه ډول بديعي صنايع راواخلو:

**تجنيس:**

تجنيس په لغت کښې همجنس کولو ته وايي او د بديع په اصطلاح کښې که چرته په يوه بيت، نيم بيتي يا يوه ټوټه نثر کښې دوې يا څو داسې کلمې راشي، چې ټولې يا اکثره سره ورته وي، مګر په معنا کښې سره توپير ولري، تجنيس يا جناس بلل کېږي.

د تجنيس لومړی کار دا دی چې په کلام کښې د موسيقي پيدا کولو ستر لاس ګرځي او د موسيقيت په وجه کلمه په ذهن او زړهٔ ښهٔ اثر کوي او اورېدونکي يا لوستونکي ترې لذت اخلي او بله ګټه يې دا ده چې په دې سره د کلمو وحدت پيدا کېږي، چې ماناوې يې سره توپير لري او سړی د خيال دنيا ته وړي، فکر او سوچ کولو ته يې مجبوروي او د ادراک په ښکلا کښې مرسته کوي.(1)

يا په کلام کښې دوه يا زيات داسې الفاظ راوړل چې په تلفظ او ليکلو کښې سره مشابه او په معنی کښې مختلف وي"(2)

تجنيس ډېر ډولونه لري چې دلته يې مونږ يوازې هغه راوړو چې ساقي په خپلو اشعارو کښې راوړي دي:

۱- تام تجنيس: چې دوه لفظه په حروفو کښې، وزن کښې، د حروفو په ترتيب او شکل کښې، حرکات سکنات کښې، هر څهٔ کښې سره يو شان وي او بيا يې هم معنا ګانې بدلې وي، نو دې ته تام تجنيس وئيلی شي، بيا په دې کښې هم که ددواړو الفاظو نوع يو وي، لکه دواړه اسمونه يا دواړه فعلونه وي"(3).

لکه ساقي چې وايي:

چــــې پــــه وار خـــوري همېشـــه يـــې پـــه قـــلار خـــوري
چــــې وار نـــــۀ کـــــړي د تـــــودې څپېــــــړې وار خـــوري

(نيم جام 30مخ)

په پورته بيت کښې د وار په کلمه کښې د تجنيسي صنعت پروت دی چې لومړی وار د نوبت او وروستی وار د ګوزار معنا لري.

زايد تجنيس: چې متجانسې کلمې يو تر بله يو حرف زيات ولري، دغه زيات توری کله د کلمې په سر، کله په منځ او کله هم په پای کښې راتلی شي"(4). لکه اروانښاد ساقي وايي:

يــــوه ډلـــــه چـــــې څـــــوك خلـــق منتخـــب کـــړي
خلــــق ورکـــــړه پـــــه طلـــــب د خپـــــل مطلـــب کــــړي

(نيم جام 32مخ)

په پورته بيت کښې د (طلب او مطلب) په کلمو کښې يو (م) اضافي دی، چې دې ډول تجنيس ته زايد تجنيس وايي، يا دابيت چې زايد توری د متجانيسو کلمو په منځ کښې راغلی دی. ساقي وايي:

ستـــا لـــه تـــورو ســـترګو اوښـــکې ســـپين کاغـــذ بانـــدې بهيـــږي
هـــر يـــو څـــاڅکی جـــام جـــم دی ټـــول جهـــان پـــه کښـــې ښـــکاريږي

(ډك جام 171 مخ)

په پورته بيت کښې د تور او سپين په کلمو کښې د ايهام صنعت پروت دی.

مطرف تجنيس: چې د متجانسو کلمو يو غږ يا يو توری سره بېل وي؛ که چېرې دغه بېل توري يا غږونه په مخرجونو کښې سره نژدې وي، مضارع تجنيس يې بولي او که په مخرجونو کښې سره لرې وي، لاحق تجنيس يې بولي. لکه ساقي چې وايي:

چــــــې کارونـــــه پښـــــتون نـــــۀ کــــوي د ننــــګ
تـــــرې نــــــه ښـــــۀ دی هنـــــدوګی وهلــــی لنــــګ

(ډك جام 110 مخ)

په پورته بيت کښې د (لنګ او ننګ) د کلمو يو توری په سر کښې بدل دی.

تاريخي ماده: (تاريخ ګويي):

دې ته وايي چې شاعر په خپل شعر کښې کومه مهمه تاريخي واقعه، د مړينې يا پيدا ښت نېټه او يا بله کومه مهمه موضوع په صراحت يا د جمل په حساب بيان کړي"(5).

مرحوم عبدالرحيم ساقي په خپلو اشعارو کښې ډېرې تاريخي مادې راوړې چې دلته يې د ځينو نمونې راوړو:

عيسوي نولس سوه دوه پنځوسم کال دی د سن
سياسي قيد يم هرېپور کښې دا وئيل کومه

(ډك جام ۲۴۴ مخ)

تاريخ اولسم د جولايي ورځ د زيارت ده
سنه دوه پنځوسمه نولس سوه د رفعت ده

(نيم جام ۲۹مخ)

**اطراد:**

اطراد په لغت کښې په يو بل پر له پسې کولو ته وايي او په اصطلاح کښې، هغه صنعت ته وايي، چې شاعر په خپل شعر کښې د يوۀ کس ذکر د هغه له پلار او نيکونو سره يو ځای په بې تکلفۍ وکړي"(6). اراوښاد فضل الرحيم ساقي د خپل ځان په پېژندګلوۍ کښې د خپلو پلرونو او نيکونو نومونه داسې راوړي، هغه وايي:

اصلي کلي مې رځړ د هشتنغر دی
خوردګه مې بانډه د زړګي سر دی
پيدا شوی يم له عبدالعزيز خانه
خواص خان صاحب ددۀ نوم د پدر دی
د هغۀ د بابا نوم ميرعالم خان ؤ
محمد زی په ذات اصلي پښتون کسکر دی
زما نوم فضل الرحيم ايښی مور پلار دی
په ساقي مشهور وطن باندې اکثر دی
مسلمان اهل سنت والجماعت يم
کنعان خېل نامه زمونږه لوی ټبر دی
درې زامن مې دي مړۀ شوي درې ژوندي دي
شپږ لوڼه د پنځو ژوندی اوس سر دی
دوه مې ښځې يو مړه يو مې ژوندۍ ده

**جمع:**

په کلام کښې د ډېر شیان سره جمع کول، او بیا دا د کوم خصوصیت په بنا په یوه خبره یا یوه حکم کښې شریکول "(7). یا هغه صنعت ته وایي، چې شاعر څو شیان تر یوه حکم لاندې راولي.ساقي وایي:

ودرولـــــی هــــر چـــــا بـــــت د خپــــل غــــرض دی
کـــــه امـــــي دی کـــــه صـــــوفي دی کـــــه مـــــلا

(ډك جام ۲۰۹ مخ)

په پورته بیت کښې (امی، صوفي او ملا) تر یو حکم لاندې راغلي دي:

لــه کــومې ورځــې چــې غــازي فخــر افغــان پورتــه شــو
جنـګ تـه یـې میـا، مـلا، انګرېـز بـزرګ او خـان پورتـه شـو

(ډك جام ۱۸۸ مخ)

په پورته بیت کښې د فخر افغان په مقابل کښې د (میا، ملا، انګرېز، بزرګ او خان) د جمعې په شکل راغلي دي.

**ایهام:**

د ایهام لغوي مانا په ګومان او وهم کښې اچولو ته وایي او توریه د یوه شي پټولو او تر شا اچولو ته وایي او د بدیع په اصطلاح کښې که شاعر یا ناثر دوه یا زیات معنا لرونکي کلمات په خپله وینا کښې داسې راوړي، چې اورېدونکی یا لوستونکی غیرمقصوده معنا ځنې واخلي او قریبه معنا، چې مقصوده معنا یې ده، پرېږدي. یا هغه صنعت ته وئیل کېږي، چې په یوه بیت کښې د لفظ خپله قریبه معنا پرېښودل شي او بعیده معنا ترې مراد شي"(8). ساقي وایي:

ترقیامتـــــه بـــــه ســـــپین نـــــهٔ شـــــي پـــــه وینځلـــــو
چـــــې عاشـــــق د معشـــــوقې لـــــه مخـــــه تـــــور شـــــي

(ډك جام ۱۹۲ مخ)

په پورته بیت کښې د تور او سپین په کلمه کښې د ایهام صنعت راغلی دی.

**تلمیح:**

تلمیح په لغت کښې اشاره کولو ته وایي او د بدیع په اصطلاح کښې هغه صنعت ته وئیل کېږي، چې شاعر په خپل نظم کښې یوې مشهورې قیصې ته د اعجاز په ډول اشاره وکړي"(9).

ساقي وایي:

ســــترګي ړنــدې د یعقـــوب شـــولې پـــه لیـــدو د قمـــیص
پـــه بیـــا لیـــدو د قمـــیص بانـــدې روښـــانه شـــولې

(نیم جام ۴۱مخ)

یوســــف چـــا وغورځـــاوۀ څـــۀ یـــې ګنـــاه وه
پـــه ځنګـــل کښـــې شـــاړ کـــوهي تـــه د کنعـــان

(ډك جام ۴۸ مخ)

یوســـف کـــه ورونـــو ورګـــوزار کـــړو د زنـــدان کـــوهي تـــه
باچـــا خـــان خپـــل رور ورګـــذار کـــه د زنـــدان کـــوهي تـــه

(ډك جام ۱۰۱ مخ)

په پورته بیتونو کښې دیوسف ﷺ قیصې ته اشاره شوې ده: حضرت یوسف ﷺ دحضرت یعقوب ﷺ زوی ؤ، خدای پاك یوسف ته ډېر بې ساري ښائیست، حسن او ښکلا ورکړې وه، خپلو ورونو چې د میرې مور زامن يې وو، رخه ورسره کوله، ددې کینې او رخې له امله یې یوسف ﷺ په کوهي کښې واچاوۀ، پلار یې ددۀ په بېلتون او جدايي کښې ړوند شو، دی له کوهي څخه روغ رمټ د یوې قافلې دتېرېدو له امله، چې اوبۀ یې راویستلې، راوویستل شو او د قافلې مشر د مصر په پادشاه عزیز باندې په پیسو وپلوره، د عزیز مېرمن زلېخا پرې مئینه شوې وه، ځکه چې دی ډېر ډولي او ښکلی ؤ، د لیدو سره یې زړۀ پرې بایلود...وایي چې زلېخې یوسف په خوب کښې ولید ددۀ په حسن او ښکلا مئینه شوې وه، کله چې عزیز د مصر پادشاه هغه خپل کورته راووست، د زلېخې خوب رښتیا شو، نو د دۀ حسن او ښائیست ترې زړۀ یووړ، هر چېرته به یې دیدن ته ناسته او ولاړه وه،چې په پایله کښې یوسف د مصر دپادشاه له خوا بندي شو"(10).

## تفریق:

تفریق په لغت کښې بېلولو ته وايي او په اصطلاح کښې هغه ادبي صنعت دی، چې کـه متکلم دوه شیان ذکر کړي او بیا یې د تفریق په ډول بیان کړي"(11). ساقي وايي:

چـــې پـــه یـــو لاس کښـــې یـــې تـــوره د همـــت وه
او پـــه بـــل کښـــې یـــې قـــرآن و پښـــتون څـــۀ شـــو؟

(ډك جام ۹۳ مخ)

## تکرار حسن:

د علم معاني په رو سره په کلام کښې يو لفظ بار بار راوړلو ته وايي دا په طبيعت ګران پرېوزي په دې وجه يې ځنې خلق د تنافر په معنا کښې اخلي او په شعر کښې يا په نثر کښې يې عيب ګڼي، خو ددې په مقابله کښې ځينې کسان په دغه صنعت سره په کلام کښې تاثير او حسن پيدا کوي ددې لپاره کله د شعر اخري الفاظ مکرر راوړي او کله څۀ بله طريقه خپله کړي کله ديوې معنا دپاره او کله د جدا جدا معنی دپاره د الفاظو تکرار کولی شي"(12). يا هغه صنعت ته وايي، چې شاعر په خپل کلام کښې کومه کلمه د تدريج، تاکيد، ډېروالي او يا داسې نورو غرضونو په مقصد تکرار راوړي. ساقي وايي:

هــــر يـــــو پښـــــتون خجـــــل خجـــــل ښـــــکاري
زمـــــــونږ جهـــــان بـــــــدل بـــــدل ښـــــــکاري

(ډك جام ۱۴ مخ)

مينـــــــــه اور دی مينـــــــــه اور دی مينـــــــــه اور دی
اور ســــاتلی څـــوك پــــه بــــډه پــــه غــــلا نــــۀ شــــي

(ډك جام ۲۷۷ مخ)

په پورته لومړي بيت کښې (بدل بدل او خجل خجل) او په دوهم بيت کښې مينه اور دی په تکراري ډول راوړل شوي دي، چې دې ډول تکرار ته په شعر کښې تکرار حسن وايي.

## تجاهل العارف

تجاهل العارف په لغت کښې د پوه شخص ناپوهی ښرګندولو ته وايي او د بديع په اصطلاح کښې، هغه معنوي صنعت دی، چې شاعر ليکوال په لوی لاس ځان ناخبره واچوي؛ يا هغه ډول پوښتنه، چې کوونکی يې له پوهې سره سره ځان ناخبره واچوي او مطلب په کښې د بل شخص متوجه کول وي"(13). ساقي وايي:

کــــــوټګی د جېلخــــــانې ده او کــــــه قبــــــر دی د مــــــړي
ســـاقي پـــروت د يـــار پـــه پـــټ کښـــې پـــه ســـيمتو بانـــدې رغـــړي

(ډك جام ۲۹ مخ)

په پورته بيت کښې ساقي ښه پوهېږي چې د جېلخانې کوټه ده، خو ځان يې نا فهمه اچولې او وايي چې نۀ پوهېږم چې دا د جېل کوټه ده که د مړي قبر دی.

**ارسال المثل:**

هغه صنعت ته وايي، چې شاعر په خپل کلام کښې کوم مشهور متل په خاصه طريقه ځای کړي"(14). اروابناد فضل الرحيم ساقي هم په خپل کلام کښې په ډېرو ځايونو کښې پښتو متلونه راوړي، په لاندې بيتونو کښې چې وايي:

دا مثـــال دی د دروغـــو مـــزل لنـــډ وي
مېـــوه نـــۀ کـــوي هرګـــز چـــې بـــوټی شـــنډ وي

(نيم جام ۴۶مخ)

لـــه ورخـــه تېـــرې اوبـــۀ بېرتـــه جـــاروتلی نـــۀ شـــي
عـــذر قـــانون نـــۀ څـــۀ فايـــده حاصـــلولی نـــۀ شـــي

(ډك جام ۱۸۵ مخ)

پښـــتونه! اوچـــت غـــر د پاســـه لار لـــري
هغـــه وربانـــدې اوړي چـــې څـــوك ورانـــدې کـــار لـــري

(ډك جام ۲۷۱ مخ)

په پورته بيتونو کښې (د دروغو مزل لنډ وي، له ورخه تېرې اوبۀ بېرته نۀ راګرځي، که غر لوړ دی پر سر يې لار شته) متلونه ساقي په خپلو شعرونو کښې راوړي دي.

**تدبيج:**

تدبيج په لغت کښې ښکلي کول او سينګارولو ته وايي؛ وئيل کښېږي، چې د تدبيج لفظ د عربي ژبې له ديباج څخه مشتق شوی دی، چې معرب يې ديباست دی، چې يو ډول ښکلې جامه ده او د بديع په اصطلاح کښې، تدبيج هغه صنعت ته وايي، چې په شعر يا فقره کښې د مختلفو رنګونو ذکر شوی وي، چې ښکلا رامنځ ته کړي"(15). ساقي وايي:

بـــوډۍ خپلـــې لـــوپټې ســـرې، شـــنې او زېـــړې
رېشـــې واچـــولې ځـــانګې پـــه تـــالونو

(ډك جام ۲۷۵ مخ)

په پورته بيت کښې د سور، شين او زيړ رنګونو ذکر شوی دی.

**مدعا المثل**:

مدعاء المثل هغه صنعت ته وايي، چې شاعر په يوۀ نيم بيتي کښې يو مطلب راوړي او په بل نيم بيتي کښې د هغه داثبات دپاره يو مثال وړاندې کړي"(16). ساقي وايي:

ګـــــرم اور پـــــه يخـــــو نرمـــــو اوبـــــو مـــــړ شـــــي
حريـــــف داســـــې پـــــه پســـــتو خبـــــرو پـــــړ شـــــي

(ډك جام ۱۸۶ مخ)

په پورته بيت کښې ساقي د نرمو او پستو خبر د اصر لپاره په اوبو د اور شيندلو مثال راوړي.

**عکس اوتبديل**:

کله چې مخکښې وروسته او وروسته مخکښې کړې عکس بلل کېږي"(17). که چېرې د لومړۍ فقرې يا نيم بيتي کلمې په دويمه فقره يا نيم بيتي کښې داسې واړول شي، چې د لومړۍ فقرې متضاده مانا افاده کړي، يا په يو بيت کښې د ځينو کلمو مخکښې وروسته کېدل چې په معنا تاثير وکړي، عکس و تبديل يې بولي. لکه ساقي چې وايي:

خنـــــدا ژړا پيـــــدا کـــــوي ژړا خنـــــدا زېـــــږوي
قحـــــط د دنيـــــا يـــــې ايښـــــودلی دی پـــــه دا بانـــــدې

(نيم جام ۵۷مخ)

عمـــــل بـــــې علمـــــه فضـــــول علـــــم بـــــې عملـــــه فضـــــول
ســـــاقي زاربـــــږه تـــــرې چـــــې علـــــم پـــــه روغ نيـــــت وګټـــــي

(ډك جام ۱۹۸ مخ)

**حذف:**

چې شاعر له خپل کلامه يو يا دوه توري حذف يا وغورځوي، ساقي وايي:

چـــــې تـــــر څـــــو پـــــه کوڅـــــه نـــــۀ يـــــې ننـــــه شـــــوی
کښـــــې بـــــه نـــــۀ ږدمـــــه تـــــر هغـــــې پـــــورې ســـــترګې

(نيم جام ۶۱مخ)

په پورتنيو بيت کښې د (ننه) کلمه په اصل کښې (دننه) ده، چې يو (د) يې غورځول شوی دی.

## قلب:

قلب یا مقلوب په لغت کښې سرچپه یا نسکور ته وایي او په اصطلاح کښې، په یوه وینا یا کلام کښې د دوو یا زیاتو داسې کلمو راوړل، چې توري یې په نوع او عدد کښې سره یو او په ترتیب کښې سره اوښتي وي"(18). قلب په ډېرو ډولونو وېشل شوی، چې دلته یې ځینې ډولونه د ساقي په اشعارو کښې ګورو.

قلب بعض: په دې ډول قلب کښې د کلمو ځینې توري سره اوښتي وي؛ ساقي وایي:

زړهٔ مې ژوندی په علم دی او علم دی په عمل
ژوندی بې شکه په اخلاص او محبت هغه دی

(ډک جام ۱۹۶ مخ)

علم کړې ددې دپاره چې ځان وړ کړې حریف پر کړې
نهٔ چې ځان له رقیبانو د عمل په توښه لوړ کړې

(ډک جام ۲۲۰ مخ)

په پورته بیتونو کښې (علم او عمل) داسې کلمې دي چې توري یې سره یو شان دي خو مخکښې وروسته شوي دي، چې دې ډول د کلمو بدلون ته قلب مستوي وایي.

قلب مستوي: چې مقلوب ترکیبونه له دواړو خواو څخه په عین شکل او مانا ولوستل شي؛ په دې اړه د ساقي ډېر زیات بیتونه دي، چې مونږ یې ځینې دلته راوړو:

زما زړهٔ په سره منګل لکه د باز وړي
مرم په دې چې یې په لوري د غماز وړي

(نیم جام ۱۰۲مخ)

چې خپل وري ته یې دښمن لکه د خر ټیټ کړي
ژوندون هغه دی چې مړانه باندې غر ټیټ کړي

(ډک جام ۸۱ مخ)

په پورته بیتونو کښې (مرم، ټیټ) داسې کلمې راوړل شوي دي چې له دواړو اړخونو یو ډول لیکل او لوستل کېږي.

## تصدير:

تصدير هغه صنعت ته وايي، چې د عجز رکن کلمه يا کلمې د تکرار، تجنيس يا اشتقاق په ډول د لومړي نيم بيتي په صدر کښې راوړل شوي وي، يا په بله ژبه، چې د وروستي نيم بيتي د پای کلمه يا توري د لومړي نيم بيتي په سر کښې راوړل شي"(19).

تصدير ډېر ډولونه لري، چې ځينې يې د ساقي په اشعارو کښې په لاندې ډول راوړل کېږي.

مـخ مـې داسـې سـوزني شـو پـه بېلتـون کښـې
لکــه ووهــي کمکــی بــلا پــه مــخ

(نيم جام ۱۵۶مخ)

په پورته بيت کښې د لومړي نيم بيتي د شروع کلمه د دوهمې نيم بيتي په پای کښې راغلې ده.

چـې د نيـا کښـې د هـر چـا وشـي رواج
اخلـې بيـا لـه نـورو خلقـو نـۀ خـراج
خراجونـه نـور هـم ډېـر دي پـه دنيـا کښـې
زورور يـا د تسـبيح دی يـا د تـاج

(ډك جام ۲۸۸ مخ )

په پورته بيتونو کښې د لومړي بيت د پای کلمه د دوهم بيت په پيل کښې راغلې ده.

## تضاد:

دې صنعت ته تقابل يا طباق هم وايي او دا هغه صنعت دی چې شاعر په خپل شعر کښې دوه مقابل او متضاد لفظونه راوړي"(20). يا په کلام کښې د دوو يا زياتو داسې الفاظو راوړل، چې ماناوې يې متقابلې وي، تضاد بلل کښېږي. لکه (خندا او ژړا، مرګ او ژوند، خپل او پردی، توراو سپين، شپه او ورځ....)

تضاد په ډېر ډولونه لري، چې بېلګې يې په لاندې ډول د عبدالرحيم ساقي په اشعارو کښې په ګوته کوو.

اې د رحـم او د قهـر لويـه کانـه
د هـر يـو تاجـدار پـه سـر بانـدې تاجـداره

(ډك جام ۱ مخ )

په پورته بيت کښې د رحم او قهر په کلمه کښې تضاد راغلی دی

په رنګونـــــو او خونـــــدونو دې ښايســـــته کــــړل
لــــه مشــــرق نـــه تــــر مغــــرب يمــــين يســـاره

(ډك جام ۱ مخ)

په پورته بيت کښې مشرق او مغرب او يمين او يسار سره متقابلې او متضادې کلمې دي.

### توالي الافعال:

که چېرې شاعر په خپل کلام کښې څو فعلونه په پر له پسې ډول راوړي او ځانګړې ښکلا او اهنګ ترې پيدا شي، توالي الافعال يې بولي"(21). لکه د ساقي په لاندې بيتونو کښې چې وايي:

اوربـــــدل، ليـــــدل، کــــول او ښنبـــــل دې ورکـــــړل
بنيـــــــادم لـــــــــه، ادم زاده پـــــــــرې لاره

(ډك جام ۱ مخ)

په پورته بيت کښې (اوربدل، ليدل، کول او ښنبل) فعلونه دي چې په مسلسل ډول راوړل شوي دي يا په لاندې بيت کښې چې وايي:

نــــه ســــاقي پـــه خپلـــو ســـترګو دې ليــــدلي
نــــه لوســـتلي نــــه لــــه چـــا نــــه اوربـــدلي

(ډك جام ۲۷۴ مخ)

### مراعات النظير:

دې صنعت ته تناسب، تلفيق او ايتلاف هم وايي؛ د بديع په اصطلاح کښې کله چې شاعر په خپل کلام کښې داسې کلمې راوړي، چې له يو او بل سره تناسب او نږدېوالی ولري، مراعات النظير يې بولي"(22). ساقي وايي:

د اســــمان لمــــن دې نقــــش کــــړه پــــه ســـتورو
نمــــر ســـــپوږمۍ ګرځــــي پــــه خپلـــه خپلـــه ليـــاره

(ډك جام ۱ مخ)

په پورته بيت کښې (اسمان، ستوري، نمر سپوږمۍ) سره نظيرې او نژدې کلمې دي.

جماعـــــت نـــــه مـــــلا نــــه وځـــــي بهــــر تـــــه
پـــــه محـــــراب کښــــې يـــــې وهلــــی بـــــلا نــــه شـــــي

(ډك جام ۲۷۷ مخ)

په پورته بيت کښې (محراب جماعت، ملا ) سره نظيرې او نژدې کليمې دي.

## سوال او ځواب:

دې صنعت ته مراجعه هم وايي.په شعر کښې د سوال او ځواب په ډول د مکالمې شکل ته سوال او ځواب صنعت وايي"(23). که چېرې شاعر په يوه مصرع بيت يا بند کښې سوال او په بله مصرع بيت يا بند کښې ځواب راوړي، دې ډول صنعت ته سوال او ځواب وايي. کله کله شاعر په يوه نيم بيتي کښې سوال او ځواب دواړه هم راوړي. د ساقي په اشعارو کښې د سوال او ځواب ډېرې نمونې وجود لري، چې دلته يې يوه بېلګه رااخلو:

حجاج وغوښته حطيط زيات دلبار ته
وی زۀ څنګه يې څۀ وايې زما کار ته
حطيط وی چې غتې د ښمن د کردګار يې
دۀ وی څۀ وايې زمونږه شهريار ته
حطيط وی چې هغه لاد خداى دښمن دی
ښۀ وئيلي هر ګز نۀ شم ستمګار ته

(ډک جام ۱۵۶ مخ )

## ذوالقافيتين:

هغه صنعت ته وايي، چې په شعر کښې دوه قافيې خوا په خوا راشي"(23). لکه ساقي چې وايي:

ورېځې پشکال کښې راغلې تورې تورې بيا
خبرې مې په زړۀ کښې راغلې نورې نورې بيا
راځئ چې بڼ ته ووځو په مارغانو کښې اختر شو
طوطيان به ښارونو ته کوي خورې خورې بيا

(ډک جام ۱۶۲مخ )

په پورته بيتونو کښې (تورې، نورې، خورې ) د قافيې کليمې چې په تکراري بڼه راغلي دي.

## قسم (سوګند):

دغه صنعت چې په بلاغت کښې د معاني په علم کښې هم ډېر ارزښت لري، تر څنګ يې د بديع پوهانو د بديع په علم کښې هم ذکر کړی دی، چې قسم هغه صنعت دی، چې ويونکی يو څيز ته د تعظيم، فخر، ستاينې، تغزل، زهد او... دپاره قسم ياد کړي"(24). ساقي وايي:

د ســــاقي پـــه لاس کښـــې ســـرۀ شـــراب د مينـــې
خـــداى ګـــو، خـــداى ګـــو کـــه پـــه څښـــو يـــې مړېـــږم

(ډك جام ۷۶ مخ)

**حسن تعليل :**

هغه صنعت ته وايي چې شاعر د کوم وصف دپاره يو مناسب علت راوړي، خو دغه علت حقيقي نۀ بلکې خيالي او ادعايي وي او يا هم په بله ژبه، د يوۀ وصف دپاره د يو غيرحقيقي مګر لطيف او مناسب علت راوړلو ته حسن تعليل وايي"(25). خو که چېرې علت حقيقي وي. بيا يې حسن تعليل بللى نۀ شو، ساقي د حسن تعليل صنعت په خپلو اشعارو کښې داسې راوړي:

نمـــر ســـپوږمى کـــړه لـــه دې غمـــه رڼـــا کمـــه
پـــه ټولګيـــو کښـــې د ســـتورو خفګـــان وينـــم

(ډك جام ۵ مخ)

په پورته بيت کښې د نمر او سپوږمى د رڼا د کموالي علت د ستورو خفګان راوړي، چې يو غير حقيقي علت دى.

ســاقي پــه جېــل خــانې کښــې ځکــه پښــې دې غځــولي
بهـــر مـــې ســـتا پـــه پـــوزه کښـــې پېـــزوان ليـــدلى دى

(ډك جام ۴۲ مخ)

په پورته بيت کښې ساقي د خپلې جېلخانې علت دا راوړي چې بهر يې د خپلې معشوقې په پوزه پېزوان ليدلى دى، حال دا چې ددۀ دغه علت حقيقي نۀ دى.

**اشتقاق:**

په کلام کښې د دوو يا زياتو تورو داسې راوړل، چې اصلي توري يې سره يو وي او له يوې مادې څخه وي، اشتقاق يې بولي"(26). يا چې له يوه مصدر سره تعلق ولري"(27). ځينې خلق اشتقاق د تجنيس له لواحقو څخه بولي، ساقي وايي:

اى پښــــتونه! د غفلـــــت د خوبـــــه ويښ شـــــه
غافـــل قـــام اختـــه پـــه قهـــر د قهـــار شـــي

(ډك جام ۱۳۹ مخ)

په پورته بيت کښې (قهر او قهار) داسې کليمې دي چې د يو مصدر سره تعلق لري.

**شبه اشتقاق**:

اشتقاق په ژبه کښې د سوري کولو په معنى دى او د بديع په اصطلاح کښې که چېرې ليکوال په خپله ليکنه کښې داسې کليمې راوړي چې د هغوى ترمنځ تجانس او تشابه وي"(28).

ځينې مهال شاعران په خپل کلام کښې داسې لفظونه هم راوړي، چې په ښکاره له يوه مصدر څخه راوتلي ښکاري، خو په حقيقت کښې داسې نهٔ وي، چې ټول دې له يوه مصدر سره اړه ولري، چې دې ډول صنعت ته د بديع په علم کښې شبه اشتقاق وايي.ساقي وايي:

چـــې ملګـــرى يـــې بزدلــــه نـــامردان وي
کــه عيســى غونــدې نامــدار وي هــم فــرار شــي

(ډک جام ۱۳۸ مخ)

په پورته بيت کښې د نامردان او نامدار په کلمو کښې د شبه اشتقاق صنعت راغلى دى.

**سياقة الاعداد:**

په لغت کښې د اعدادو او شمېرو مرتب کولو ته وايي او د بديع په اصطلاح کښې که چېرې په يو نظم کښې د شمېرې (اعدادو) مرتب يا نا مرتب ذکر راشي سياقة الاعداد يې بولي"(29).

ساقي وايي:

څــوک پــه شــپږ، شــپږ پــه اتــهٔ څــوک لا پــه زيــاتو
څــوک بــې لاســو او بــې پښــو درومــې تــر کــاره

(ډک جام ۱ مخ)

په پورته بيت کښې شپږ او اتهٔ اعداد چې ساقي په خپلو شعرونو کښې راوړي، له دې علاوه د ساقي په اشعارو کښې داسې ډېر بيتونه راغلي چې عددونه په کښې ذکر شوي خو مونږ يې يوازې په يو مثال بسنه کوو.

دا وو د فضل الرحيم ساقي په شاعرۍ کښې صنائع او بدائع چې دلته مو څهٔ نهٔ څهٔ رڼا ورباندې واچوله، ګني ساقي صاحب په شاعرۍ کښې که وکتلى شي نو د صنائع او بدائع نور اړخونه هم پکښې موندل کېدلى شي.

***

# حوالې

(1) شکیب، عبدالظاهر، د خوشحال خټك اشعار د قافیې فورم او بدیعي ښکلا له نظره، دویم چاپ، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۰ ل کال، مخ۲۱۳.
(2) هاشمي، حمید الله، پروفېسر، فن شعر وشاعري اور روح بلاغت، مکتبه دانیال اردوبازار لاهور، ۲۰۰۴ م کال، مخ ۲۸۸ .
(3) کاکاخېل، سید تسنیم الحق، روح ادب، دویم چاپ، پښتو اکاډمي، پېښور، ۱۹۸۷ م کال، مخ ۱۲۱ .
(4) هاشمي، حمید الله، پروفېسر، فن شعر وشاعري اور روح بلاغت، مخ۲۹۰ .
(5) شکیب، عبدالظاهر، د خوشحال خټك اشعار د قافیې فورم او بدیعي ښکلا له نظره،مخ۳۲۵ .
(6) هم دغه، مخ۳۲۷.
(7) ډاکټر، صابر کلوروي، عروض و بدیع (اردو)، شعبه اردو پشاور، منظور پریس لاهور، ۲۰۰۱م، مخ ۶۱ .
(8) شکیب، عبدالظاهر، د خوشحال خټك اشعار د قافیې فورم او بدیعي ښکلا له نظره، مخ۳۱۷.
(9) هم دغه، مخ۳۲۱.
(10) منګل، علي محمد، په لنډیو کښې تلمیح او تاریخي سرچینې، شرکت ساختماني صاحبزاده (ګانشو)، شعیب مطبعه، کابل، ۱۳۸۹ ل کال، ۲۲- ۲۳ مخونه
(11) فضل محمد پنهان، ادبي ارمغان، نارنج خپرندویه ټولنه، کندهار، ۱۳۸۳ ل کال، مخ ۴۸ .
(12) خټك، فضل میر، فضلیات، حیات بك ډیپو کرك، ۱۹۹۹ م کال، مخ ۱۴۲ .
(13) شکیب، عبدالظاهر، د خوشحال خټك اشعار د قافیې فورم او بدیعي ښکلا له نظره، ۲۸۹.
(14) هم دغه، مخ۳۳۱.
(15) هم دغه، ۲۹۱.
(16) هم دغه، مخ ۳۲۴.
(17) مسلم دوست، عبدالرحیم، خوږه ژبهٔ، څلورم چاپ، عنایت کتابپلورنځی، پېښور، ۱۳۸۸ ل کال، مخ ۱۹۲
(18) شکیب، عبدالظاهر، د خوشحال خټك اشعار د قافیې فورم او بدیعي ښکلا له نظره، مخ ۲۲۴ .
(19) هم دغه، مخ ۲۴۴ .
(20) ارشاد، اورنګزیب، بدیع او د پښتو شعر، دانش کتابخانه و پېښور، ۱۳۶۹ ل کال، مخ ۱۰.

(21) پوهنمل محمد ابراهیم، همکار، د بدیع فن او پښتو شاعري، څلورم چاپ، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۱ ل کال، مخ ۹۸ .

(22) بېنوا، عبدالرؤف، ادبي فنون، مخ ۸۲.

(23) ډاکټر علی جاوید، درس بلاغت، تیسری طباعت، کونسل برای فروغ اردو زبان، نی دهلی، ۲۰۰۹ع کال، مخ ۵۴ .

(24) پوهندوی، ډاکټر محمداجان حقپال، بدیع پوهنه، کابل پوهنتون، د کابل پوهنتون مطبعه، ۱۳۸۹ ل کال، مخ ۱۱۸ .

(25) شکیب، عبدالظاهر، د خوشحال خټک اشعار د قافیې فورم او بدیعي ښکلا له نظره، مخ ۲۸۸ .

(26) پوهندوی، ډاکټر محمداجان حقپال، بدیع پوهنه، مخ ۲۴۵ .

(27) شکیب، عبدالظاهر، د خوشحال خټک اشعار د قافیې فورم او بدیعي ښکلا له نظره، مخ ۲۵۴ .

(28) پوهنمل، محمد ابراهیم همکار، د بدیع فن او پښتو شاعري، څلورم چاپ، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۱ ل کال، مخ ۱۰۸ .

(29) پوهندوی، ډاکټر محمداجان حقپال، بدیع پوهنه، مخ ۱۶۳